**جون ۲۶، د شکنجې د قربانیانو د درناوي ورځ**
**ډاکټر سایمون اډمز، عمومي اجرائیه رئیس**
**د شکنجې د قربانیانو د ملاتړ مرکز (CVT)**
**۲۶ جون ، ۲۰۲۵**

د ۲۶ جون پر ورځ، چې د شکنجې د قربانیانو د ملاتړ نړیواله ورځ ده، موږ قربانیانو ته درناوی کوو، او له ټولو ژغورل شویو د کورنیو او ټولنو سره خپل ملاتړ او یووالی څرګندوو.

د ۱۹۹۸ کال راهیسې، د ملګرو ملتونو عمومي غونډې دا ورځ ځانګړې کړې چې نړیواله ټولنه دې وپیژني چې شکنجه د بشریت پر ضد یو جنایت دی، چې د نړیوالو قوانینو له مخې منع ده. په ۲۰۲۵ کال کې، موږ د هغې زړورتیا انعکاس کوو چې هره ورځ یې په هغو ژغورل شویو کسانو کې وینو چې د شکنجې د قربانیانو د ملاتړ مرکز ته د پاملرنې لپاره راځي.

په داسې کال کې چې استبداد او شخړې په نړۍ کې زیاتې شوې – او ځینې حکومتونه نړیوال بشري حقونه تر پښو لاندې کوي او پر بشردوستانه کارکوونکو بریدونه کوي – موږ د خپلو مراجعینو پر زړورتیا ویاړو، هغو کسانو چې یوازې د خپلو حقونو د دفاع له امله شکنجه شوي. د هغوی زړورتیا موږ ته الهام راکوي، په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر راپور ورکړی چې اوس مهال ۱۲۳ میلیونه انسانان د تعقیب شخړو او ظلمونو له امله بې‌ځایه شوي دي.

دوی موږ ته الهام راکوي، په ځانګړي ډول اوس چې د امریکا حکومت د بهرنۍ مرستې بودجه سخته راکمه کړې. له جنوری راهیسی، (سی.وی.ټی) مجبوره شوی چې په اردن او ایتوپیا کې خپلې کلینیکونه وتړي. موږ پوهېږو چې دا کمښتونه نه یوازې د امریکا نړیوال حیثیت ته زیان رسوي، بلکې د نړۍ تر ټولو زیان‌منو خلکو ته له ژوند ژغورونکي درملنې څخه د لاسرسي حق هم انکاروي. دا پرېکړې د ځینو خلکو د ژوند بایللو لامل شوې دي.

کله چې موږ دا ورځ لمانځو او د (سی.وی.ټی) څلوېښتمه کلیزه نمانځو، موږ دا هم منو چې دا وخت، زموږ د مراجعینو، او ټولو بشردوستانه کارکوونکو او د بشري حقونو مدافعینو لپاره ډېر ستونزمن دی. خو بیا هم، حتی په داسې ګډوډو شرایطو کې (سی.وی.ټی) لا هم د زرګونو ژغورل شویو کسانو مرسته کولی شي.

زه ویاړم چې زموږ ټیمونه ژر وتوانېدل چې د سوریې پاتې شویو لپاره د پراخ کار لپاره بدیلې سرچینې پیدا کړي او همدارنګه د ایتوپیا د تیګرای سیمه کې د وروستي کورني جګړې له قربانیانو سره د یوې نوې پروژې پیل وکړ. سربېره پردې، زموږ ټیم په اریزونا کې د لومړي ځل لپاره له هغو پناه غوښتونکو سره کار پیل کړی چې د امریکا–مکسیکو پولې په مکسیکویي خوا کې پرېښودل شوي دي. موږ لا هم په کینیا کې له هغو کډوالو سره ملاتړ ته دوام ورکوو چې د خپل (LGBTQ+) هویت له امله یې له تعقیب څخه تېښته کړې او همدارنګه د یوګاندا (LRA ) د ظلمونو پاتې شوي قربانیانو سره ملاتړ ته دوام ورکوو. زموږ کلینیکونه په امریکا کې لا هم هغو کسانو ته هیله او درملنه برابروي چې دې هېواد ته د پناه غوښتنې د پخواني ژمنې له مخې راغلي دي.

په دې نړیواله ورځ، موږ باور لرو چې راتلونکې د هغو خلکو ده چې د امید زړورتیا ولري. ولسمشران، جنګي مجرمان او حکومتونه راځي او ځي، خو موږ به د امید لپاره خپل کار ته دوام ورکوو.